رحمۃ اللہ علیہ

# فیضان امام باقر

پشتو



پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمہ:
ٹرانسلیشن ڈپارٹمنٹ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# فیضان اِمامِ باقِر رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه

**دعائے عطار** : یا ربِّ مصطفٰی، څوک چې د "فیضان امام باقر رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه" دا رساله اولولي که واوري. هغوئي ته د خپل خوږ آخري نبي (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) او د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو په غلامئ او دعوتِ اِسلامي کښې اِستِقامت ورکړې او بے حسابه ئې جنّتُ الفِردوس ته داخِل کړې۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

خواجهٔ خواجګان ، حضرت خواجه غلام حسن سَواګ المعروف "پیر سواګ" رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائی: کله چې ډیر غمونه او تکلیفونه راشي، نو زیات درود شریف لوستل ټولې ستونځې هواروي۔ (فیوضات حسینیه صفحه 193)

مشکل جو سر پہ آپڑی تیری ہی نام سے ٹلی
مشکل کشا ہے تیرا نام تجھ پر درود اور سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د غیبو خبر

د صحابئ رسول حضرت جابر بن عبدُ الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُپه خدمت کښې د اهلِ بيتو ځلنده ستورے امام باقررَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په ماشومتوب کښې حاضر شو- په آخري عمر کښې د هغوئي د سترګو نظر کمزورے شوے وو ځکه هغوئي پوښتنه اوکړه: تاسو څوک ئې؟ ”نو امام باقر رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په جواب کښې اووئيل: محمد بن علي بن حسين بن علي المرتضٰى (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم) دې خبرې اوريدو سره هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ راوړاندې شول او د امام باقر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُلاسونه ئې ښکل کړل او اوئې فرمائيل:د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تاسو سلام راليږلے دے- هلته کښې ناستو خلقو هغوئي ته عرض اوکړو: حضور! دا څنګه کيدے شي؟ (ځکه چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ظاهره په دغه وخت کښې پرده فرمائيلې وه) په دې حضرت جابر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اوفرمائيل: چې يو ځل زه د دوانړو جهانونو د سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر ووم او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارکه غيږه کښې د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لمسے، د فاطمې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَاد زړه ټوټه، حضرت امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لوبې کولې. د حضرت حسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نيکه مبارک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے جابره! زما د دې ځوي به يو ځوي پيدا کيږي د چا نوم چې به علي (زينُ العابدين) وي کله چې د قيامت ورځ شي نو يو غږ کوونکے به غږ کوي: چې سيد العابدين دې اودريږي! نو هغوئي به اودريږي- بيا به د هغوئي يو ځوي پيدا شي د چا نوم چې به محمد وي- اے جابره! ته به هغوئي وينې، کله چې ته د هغوئي سره ميلاؤ شې نو زما سلام ورته اووايه- (الصواعق المحرقه، ص201)د الله پاک دې په هغوئي باندې

رَحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تیری نسل پاک میں ہے بچہ بچہ نور کا
تو ہے عین نور تیرا سب گھرانہ نور کا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## زيږون او پيژندنه

د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شهزادګۍ حضرت فاطمې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهَا د زړه قرار، د حضرت امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْه لمسے او د امام زين العابدين شهزاده، د سلسلهٔ قادريه رضويه عطاريه پينځم شيخِ طريقت حضرت امام باقر رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه دے- د هغوئي مبارک نوم محمد، کنيت ابو جَعفَر او لقب باقِر شاکر او هادي (يعنى هدايت ورکوونکے) دے- د امام باقر ولادت شريف د کربلا د واقعې نه تقريباً درې کاله مخکښې په دريم صفر المظفر 57 هجرئ د جُمعې مبارکې په ورځ مدينه منوره کښې اوشو- (مسالک السالکين، جلد 1 صفحه 213۔ تاريخ مشائخ قادريه، صفحه 75)

سید سجاد کے صدقے میں ساجد رکھ مجھے
علم حق دے باقر علم ہدا کے واسطے

## د باقر وئيلو وجه

هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه ته د باقر وئيلو وجه "اَلصَّوَاعِقُ الْمُحرِقَه" کښې دا بيان کړے شوې ده

چې ”بَقَرَ الۡاَرض“ زمکې شلولو او د هغې نه د پټو خزانو راويستلو ته وائي هم دغه شان هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه د الله پاک د حکمونو دننه د راز او معرفت پټې خزانې رابرسيره کړې او د هغې حِکمتونه ئې بيان کړل- نور دا هم دي چې ”باقِر“ علم رابرسيره کوونکي ته وئيلے شي- هغوئي وسيعُ العلم (يعني ډير زيات علم لرونکي) وو ځکه هغوئي ته باقِر اووئيلے شو-(الصواعق المحرقه، ص201) د حضرت امام باقر (رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه) څلور ځامن او درې لونړه وې، او د يو قول مطابق ئې ”پينځه ځامن او دوه لونړه وې-“ (مراٰۃالمناجیح، 621/8)

## د امامِ باقر رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه شان

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت! د الله پاک په مونږ ډير لوئي احسان دے چې هغه خپل ځان ته د نزدې خلقو سره زمونږ نسبت او عقيدت ساتلے دے- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! زمونږه نسبت خومره ښکلے دے چې ډير خوږ امام باقر رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه زمونږ پير او مُرشد دے او د هغوئي په مبارک ذات د حَسَني حُسيني ساداتِ کرامو سلسله ميلاويږي ځکه چې د هغوئي والدِ محترم حضرت امام زينُ العابدين رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه د امامِ عالي مقام حضرت امامِ حسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ شهزاده دے او د هغوئي مور بي بي د رسول الله صَلَّى اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لمسي حضرت امام حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ شهزادګئ ده، يواځې دا نه بلکه د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ سره هم د هغوئي ژوره رشته ده، د حضرت صديقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ شهزاده حضرت محمد بن ابو بکر رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه د حضرت علي المرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ د طرف نه د مصر والي مقرَّر شو، د هغوئي د شهزاده ”حضرت قاسم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه د شهزادګئ

حضرت فروه بنت قاسم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِما نکاح د حضرت امام باقِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره اوشوه نو د هغوئي نه د سلسلهٔ قادريه رضويه عطاريه شپږم شيخِ طريقت حضرت امام جَعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوزيږيدلو نو (داسې) صديقِ اکبر د ټولو سيدانو (د مور د اړخ نه) نيکه دے او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْه د سيدانو (د پلار د اړخ نه) نيکه (دے)-" (مراٰۃالمناجیح،1/622)

## د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو محبتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان محبت د نجات (خلاصي) لاره ده د قيامت په ورځ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت برخي موندلو د پاره د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو د غلامئ پټئ په مرئ کښي ضروري ده- د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د اهلِ بيتو سره د عقيدت اومحبت ډير واقعات دي داسې د اهلِ بيتِ اطهار هم د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره د مينې او شفقت بے شميره اندازونه دي ځنګه چې د امامِ باقِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د لمسيءِ، د امامِ جعفرِ صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د لور نوم د مسلمانانو د خوږې مور حضرت عائشي صديقي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په مبارک نوم وو- د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا مزار شريف اوس هم په مصر کښي موجود دے او د هغوئي د مزار شريف سره خوا کښي چې کوم جُمات دے هغې ته د هغوئي د نسبت په وجه مسجدِ عائشه وئيلے شي- عاشقِ صحابه و اهلِ بيت، باني دعوتِ اسلامي اميرِ اهلِسنت څه ښکلي فرمائي:

اٰل واصحابِ نبی کے جس قدر | چاہنے والے ہیں ساروں کو سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سرو زرو زنځير

حديثونه مبارک د مختلفو راويانو نه روايت کولے شي، په هغوئي کښې محدثينِ کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د حضرت امام جعفر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د امامِ باقِرِ او د هغوئي نه د امام زينُ العابدين، او د هغوئي نه د امام حُسين، د حضرت علي المرتضیٰ رضوانُ اللّٰهِ عليهم اجمعين له خوا کيدونکو روايتونو ته "سلسلة الذّهب" يعني د سرو زرو زنځير وائي- (مرقات المفاتيح، 657/10، تحت الحديث: 6287)

آل و اصحابِ نبی سب بادشہ ہیں بادشاہ　　میں فقط ادنیٰ گدا اصحاب و اہلِ بیت کا

## علمي وجاهت

حضرت عبد الله بن عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د امامِ باقِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه علاوه په عالمانو کښې داسې بل څوک نه دي ليدلي د چا سره چې د عالمانو علم هم کم شي، ما حَکَم بن عيينه د هغوئي په خدمت کښې داسې ناست اوليدو لکه چې طالبِ علم ناست وي- (حلية الاولياء، 217/3، حديث: 3757)

## پيريان به د مسئلو حل کولو د پاره حاضريدل

د يو کَس بيان دے چې ما د حضرت امام باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د ملاقات اجازت اوغوښتو نو خلقو اووئيل: د تادئ نه کار مه اخله ځکه چې د هغوئي سره نور هم ډير سړي ناست دي او تاسو لا هم اوس بهر تشريف نه دے راوړے، په دې کښې 12 سړي د تنګو چغو او لاسونو او ښپو کښې د دستانو او موزو اچولو سره بهر راووتل- هغوئي "السلام

عليكم“ اووئيلو او لاړل- زه چې كله د حضرت امام باقر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت كښې حاضر شوم نو پوښتنه مې اوكړه: حضرت! دا څوک وو كوم چې اوس ستاسو د خوا نه لاړل؟ هغوئي اوفرمائيل دا ستاسو پيريان ورونړه وو- ما په حيرانتيا عرض اوكړو: آيا تاسو دوئي وينئ؟ اوئې فرمائيل: آؤ! څنګه چې ته زما نه د حلالو او حرامو په باره كښې د مسئلو پوښتنه كوې داسې دوئي هم راځي او زما نه مسئلې زده كوي- (شواھدالنبوة، ص239)

## عربئ ژبه كښې شجره

حضرت امامِ اهلِسنت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يوه اوږده د عربئ شجرۀ طريقت بصيغۀ درود ليكې، په هغې كښې د حضرت امامِ باقِر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ذِكرِ خير په دې الفاظو كښې كوي:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ وَعَلَى الْمَوْلَى السَّيِّدِ الْاِمَامِ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّنِ الْبَاقِرِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا

ترجمه: اے الله پاكه ته په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې او په سردار او مولا محمد بن علي امام باقر رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا باندې درود او سلام اوليږه او په هغوئي بركت نازل كړه-

(تاريخ و شرح شجرۀ قادريه بركاتيه رضويه، ص108)

دغه شان په خپله يو فارسئ شجره كښې د حضرت امام باقر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره د دې شعرونو په شكل كښې اِستِغاثه (يعني فرياد) كوي:

باقرا يا عالمِ سادات يا بحرَ العُلوم ‏ ‏ ‏ ‏ ازعلومِ خودبدفع جهل ما اِمداد كُنْ

يعني اے امامِ باقر! تاسو د ساداتِ کرام ډير لوئي عالِم او د علمونو سمندر وئ- د الله پاک د طرف نه په عطا کړے شوؤ دي عُلومو زما جهالت لرې کړئ او زما مدد اوکړئ-
(تاريخ و شرح شجرۂ قادريه برکاتيه رضويه، ص128)

## عبادتونه او مُناجات

حضرت امامِ باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د خپل والدِ محترم پشان ډير عابد او زاهد او هر وخت عبادت کښې مصروفه اوسيدو- د هغوئي شهزاده حضرت امامِ جعفرِ صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زما والدِ محترم به د نيمې شپې د الله پاک په دربار کښې عرض کولو: "اے الله پاکه! تا ماته حکم اوکړو خو ما پرې عمل اونکړو، زه دې منع کړم خو زه منع نه شوم، ستا دا بنده ستا په دربار کښې حاضر دے او د ده سره هيڅ عذر نشته-" (حلية الاولياء، 217/3، حديث:3760) اے الله پاکه! شپه راغله او د دنيا د بادشاهانو حکومت ختم شو، په آسمان کښې ستورې راوختل او خلق اوده شول- اے پاکه پروردګاره! ته ژوندے ئې، هميشه پاتې کيدونکے او ليدونکے ئې، ستا ذات پاک دے ته د خوب او پرکالئ نه پاک ئې ستا ذات خوک غوښتونکے خالي لاسونه نه پريږدي- (تاريخ مشائخ قادريه رضويه برکاتيه، ص82)

پےئِ حُسين و حَسَن فاطمه علي حيدر  ہمارے بگڑے ہوئے کام دے بنا يارب

## مُبارک عادتونه

حضرت خالد بن دينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي چې حضرت محمد بن علي باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې به

کله مُسکا کوله نو د الله پاک په دربار کښې به ئې عرض کولو: " اے الله پاکه! زما نه مه خفه کیږه- (صفة الصفوه، 78/2) حضرتِ عبدُالله بن یحیيٰ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیانوي: چې ما حضرت امامِ ابو جعفر محمد بن علي باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په سور رنګ تهبند ترلو اولیدو، هغوئي به د فرض لمونځونو نه علاوه شپه او ورځ کښې 50 رکعتونه ادا کول- د هغوئي په مبارکه ګوتمه لیکلے شوي وو. اَلْقُوَّةُ لِلّٰهِ جَمِيْعًا یعني ټول زور د الله پاک دے-

(حلیة الاولیاء، 217/3، حدیث: 3758 ـ 213/3، حدیث: 3737)

## د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر خنګ ورومبے خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

امامِ جعفرِ صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل والدِ محترم حضرت امام باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روایت کوي چې حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بیعت کولو نه پس تر 7 ورځو پورې خلقو ته (د عاجزئ په طور) د بیعت ماتولو وئیل- په 7 ورځ حضرت علي المرتضیٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تشریف راوړو او عرض ئې اوکړو: " نه به مونږ ستاسو سره کړے بیعت مات کړو او نه به داسې څه غوښتنه کوو، که چرې مونږ تاسو اهل نه ګڼړلئ نو بیعت به مو چرې هم نه کولو-"

(الرياض النضرة، 252/1)

هوئے فاروق و عثمان و علی جب داخلِ بیعت
بَنا فخرِ سلاسل سلسلہ صدیقِ اکبر کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم په باره کښي

حضرت امام باقر رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہفرمائي: چې د حضرت فاطمة الزّهرا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَاد ټول آل (یعني اولاد) په دې خبره اِجماع او اتفاق دے چي (هغوئي) د حضرت ابو بکر او حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَاپه حق کښي هغه خبرې اوکړي کومي چي ډېرې ښې وي- (ظاهره ده چي د ټولو نه بهتره خبره به د هغه چا په حق کښي کولے شي څوک چي د ټولو نه بهتر وي-)(صواعق المحرقه، ص52)

## څوک چي هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته صدیق اونه وائي---؟

د حضرت عُروه بن عبدُ الله رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہنه روایت دے چي زه د حضرت امام باقر ابو جعفر محمد بن علي بن حسین رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہپه خدمت کښي حاضر شوم او هغوئي ته مي عرض اوکړو: چي د تورو سینګارولو په باره کښي تاسو څه فرمائيئ؟ هغوئي اوفرمائیل: په دې کښي هیڅ باک نشته ځکه چي پخپله حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُهم خپله توره سینګار کړه- ما عرض اوکړو: ”تاسو هغوئي ته صدیق اووئیل؟“ دې اوریدلو سره حضرت امام باقر رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہپه جلال کښي راغلے او پاڅیدو او قبلي طرفته ئې مخ کړو او ارشاد ئې اوفرمائیلو: ”آؤ! هغه صدیق دے، آؤ! هغه صدیق دے، آؤ! هغه صدیق دے- او څوک چي هغوئي ته صدیق اونه وائي نو الله پاک د هغوئي خبره په دنیا او آخرت کښي

نه ریبنتوني کوي- (فضائل الصحابة،، 1/419، الرقم: 655)

عمر سے بھی وہ افضل ہیں وہ عثماں سے بھی ہیں اعلیٰ
یقیناً پیشوائے مرتَضٰی صدّیقِ اکبر ہیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان په باره کښي د محبت درس

حضرت عبدُ الملک بن ابو سلیمان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ بیانوي: ما د حضرت امام باقر رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ نه د دي آیت مبارک

| | |
|---|---|
| اِنَّمَا وَلِیُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوا الَّذِیْنَ یُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَیُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ (پ6، المائدہ:55) | ترجمهٔ کنزُ الایمان: ستاسو ملګرے نه دے خو الله او د هغه رسول او ایمان والا چي لمونځ ادا کوي او زکواة ورکوي او الله پاک ته ئي سر ټیټ کړے دے- |

تفسیر اوپوښتلو نو هغوئي اوفرمائیل: ”د دي آیت مِصداق صحابهٔ کرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان دي-“ ما عرض اوکړو: خلق وائي چي د دي آیت مِصداق د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت علي المرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دے- اوئي فرمائیل: ”هغوئي هم په صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان کښي دي-“ (تاریخ ابن عساکر، 54/289)

## د اهلِ بيتو سره د مينې د دروغو دعويدار

امام باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جابر جُعفي ته اوفرمائيل: اے جابره! ماته خبر رارسيدلے دے چې عراق کښې څه خلق دي چې زمونږ (يعني د اهلِ بيتو) سره د محبت دعوىٰ کوي خو د اميرُ المؤمنين حضرت ابو بکر صديق او اميرُ المؤمنين حضرت عُمَرِ فارُوقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا په شان کښې نه بيانيدونکي (په خُله نه راتلونکي) خبرې کوي او دا وائي چې ما هغوئي ته د دې حکم کړے دے، هغوئي ته دا اورسوه چې زه د الله پاک په دربار کښې د هغوئي نه د براءت اظهار کووم- زه چې د شيخينِ کريمين (يعني حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا ) د پاره د اوچتو درجو او رحمت دعا اونکړم نو ماته دې د خپل خوږ نيکه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصيب نشي- د دې حضراتو نه صرف د الله پاک دښمنان غافله او بيزاره دي. (البدايه والنهايه، 6/457)

## د شيخينِ کريمينو نه جُدا د اهلِ بيتو نه جُدا دے

په يوه بله موقع هغوئي جابر جعفي ته اوفرمائيل: کوفي والوؤ ته دا خبره اورسوه چې چا د شيخينِ کريمين ( يعني د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا ) په شان کښې ګستاخي اوکړه زه د هغوئي نه برئ الذِمَّه او د شيخينِ کريمين ( يعني د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا ) نه رضا يم- کوم کَس چې د حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمرِ فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا

فضيلت نه پيژني نو هغه د سُنَّت (يعني د حديث) نه خبر نه دے-

(حلية الاولياء، 3/217، حديث: 3753 3754)

اس اِمامت سے کھلا تم ہو اِمامِ اَکبر　　تھی یہ ہی رَمزِ نبی کہتے ہیں حیدر صدیق

## د الله پاک د تعريف جامع کلمات

حضرت امامِ جعفرِ صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ بيانوي چې يو ځل زما د والدِ محترم حضرت محمد بن علي باقر رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ خچر ورک شو، هغوئي اوفرمائيل: ”که چرې الله پاک هغه راپيدا کړو نو زه به د هغه ( الله پاک) داسې حمد (يعني تعريف) اوکړم په کوم چې به هغه رضا شي-“ لږ ساعت پس الله پاک هغه د زِين او واګو سره راوستو، هغوئي په هغې سواره شول او چې کله صحيح کيناستل نو جامې ئې سمې کړې او آسمان طرفته ئې مخ کړو او ”اَلحمدُ لِلّٰه“ ئې اووئيله، د دې نه علاوه ئې نور هيڅ اونه وئيل: کله چې د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نه د دې باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو اوئې فرمائيل: ”آيا ما څه پريښودل يا مې څه باقي اوساتل؟ ما خو ټول تعريفونه صرف د الله پاک اوکړل-“ (موسوعه ابن ابی الدنیا، 1/497، حديث: 105)

د الله پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بد مرګ نه د بچ کيدو نُسخه

امامِ اوزاعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ بيانوي چې زه مدينه منوره کښې د حضرت امامِ باقر رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په

خدمت کښې حاضر شوم او د الله پاک د فرمان:

| | |
|---|---|
| يَمۡحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَيُثۡبِتُ ۖۚ وَعِنۡدَهٗۤ اُمُّ الۡكِتٰبِ (پ13، الرعد:39) | ترجمۂ کنزُ الایمان: الله پاک چې څه اوغواړي ورانوي او ثابتوي ئې او اصلي ليکلے شوي د هغه سره دي- |

د تفسير په باره کښې مې پوښتنه اوکړه نو هغوئي اوفرمائيل: آؤ! زما والدِ محترم د خپل جدِّ اَمجد اميرُ المؤمنين حضرت علي المرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه د روايت کولو سره بيان کړه چې هغوئي فرمائي: ما د دې آيت شريف په باره کښې د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوکړه نو هغوئي ارشاد اوفرمائيلو: "اے علي! زه د دې آيت سره تا له زيرے درکووم او ته هغه زيرے زما نه پس زما اُمَّت ته واوروه چې په صحيح طريقه صدقه ورکول، نيکي کول، د مور پلار سره ښه سلوک کول او صله رحمي کول دا بدبختي په نيک بختئ بدلوي، عمر زياتوي او د بد مرګ نه بچ کوي- (حلية الاولياء، 156/6، حديث:8140)

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د مور پلار سره ښه سلوک کول خاص طور چې کله هغوئي ته زموږ د خدمت ضرورت وي يا هغوئي ضعيفه شي دې حالت کښې د هغوئي د خدمت د پاره هر وخت تيار اوسيدل ډيره لويه د سعادت خبره ده، ټولو عاشقانِ صحابه او اهلِ بيتو ته پکار دي چې د خپلو ذي رحم خپلوانو سره هم ښه سلوک اوکړي که چرې هغوئي زموږ سره په څه خفګان خپلوي پريږدي نو چې بيا هم موږ د رشتې روغولو کوشش اوکړو څکه چې که چرې تاسو سره څوک ښه سُلوک اوکړي او تاسو هم

د هغوئي سره ښه سلوک اوکړئ نو دا خو اَدله بدله شوه کمال خو به هله وي چې کله ځوک زمونږ سره ښه سلوک نه کوي او مونږ د هغه سره ښيګړه اوکړو او په ښه اخلاقو ورسره ميلاؤ شو- حديث شريف کښې دي چې ځوک ستاسو سره پريږدي تاسو ورسره روغيږئ- ځوک چې تاسو محرومه کوي هغوئي له ورکوئ او ځوک چې په تاسو ظلم کوي تاسو هغه معاف کوئ. (معجم اوسط، 160/4، حديث: 5567)

امامِ باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ټولو نه زيات د ثواب زر حاصلولو وجه جوړيدونکے عمل صله رحمي ده او د ټولو نه زياته زر د سزا وجه جوړيدونکے عمل بغاوت او سرکشي ده- (حلية الاولياء، 219/3، رقم: 3768) د خپلوانو سره بغير د شرعي اجازت نه د تعلق پريښودو نحوست (سپيره توب) ته خو لږ اوګورئ حضرت امام زينُ العابدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل شهزاده امام باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د خپلوئ پريښودونکي د ناستې نه هم د بچ کيدو نصيحت اوکړو. لکه څنګه چې:

## د شهزاده خپل شهزاده ته نصيحتونه

حضرت محمد بن علي باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زما والدِ محترم حضرت اِمامِ زينُ العابدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ماته نصيحت کښې اوفرمائيل چې: " د 5 قسمه خلقو سره مه کښينه، مه ورسره خبرې کوه او مه ورسره په سفر ځه ( په لاره ملګرے کيږه)-" ما عرض اوکړو: زه ستاسو نه قربان! هغه ځوک دي؟ اوئې فرمائيل: "د فاسق سره ناسته پاسته مه کوه ځکه چې هغه به تا په يوه يا د دې نه د کمې نمړئ په بدل خرڅ کړي-" ما عرض اوکړو د

نمړئ نه د کمې نه څه مراد دے؟ اوئې فرمائيل: " د نمړئ لالچ به کوي خو هغه به حاصل نه کړي-" ما عرض اوکړو: دويم ګس؟ اوئې فرمائيل: د بخيل (يعني د کنجوس) سره ناسته پاسته مه کوه ځکه چې هغه به په داسې وخت کښې ستا نه مال منع کړي چې کله تاته د هغې سخت ضرورت وي-" ما عرض اوکړو: دريم څوک دے؟ اوئې فرمائيل: "د دروغژن سره ناسته پاسته مه کوه ځکه چې هغه د سَراب (دهوکې) په شان دے څوک چې به ستا نه نزدې لرې او لرې به درته نزدې کړي-" ما عرض اوکړو: څلورم ګس؟ اوئې فرمائيل: "د بے وقوفه (کم عقل) د ناستې پاستې نه ځان بچ کړه ځکه چې تاته به د فائدې رسولو په کوشش کښې نقصان رسوي-" ما عرض اوکړو: پينځم کوم ګس دے؟ اوئې فرمائيل: " د خپلوانو سره د تعلق ختموونکي سره د ناستې پاستې نه ځان بچ کړه ځکه چې ما په کتابُ الله کښې په دريو ځيونو کښې هغه مَلعون (يعني د الله پاک د رحمت نه لرې) مونډلے دے-" (حلیۃالاولیاء، 215/3، حدیث: 3745) امامِ باقِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل ځوي ته اوفرمائيل: "اے ځويه! د سستئ او زړه تنګئ نه ځان ساته ځکه چې دا د هرې بدئ چابي ده چې که چرې د سستئ ښکار شوې نو حق به ادا نکړے شې او که چرې د زړه تنګئ ښکار شوې نو په حق به صبر اونکړے شې-" (صفۃالصفوہ، 78/2)

## د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان زيارت

هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مدينې منورې عظيم الشان تابعي او په ډېرو لويو فُقَهَاؤ او محدثينو

کښې دي- هغوئي په صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان کښې د خادمُ النبي حضرت انس، حضرت جابر او حضرت عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُمْ سره د ملاقات کولو شرف حاصل کړو او د دغه حضراتو نه ئې حديثونه مبارک هم روايت کړل-

## د اهلِ بيتو د غلام د پاره زيرے

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت! الله والا د بے زبانه ځناورو په خبرو هم پوهيږي بلکه د هغوئي په فرياد د هغوئي مدد هم کوي لکه څنګه چې د يو ګس بيان دے: چې ما د امامِ باقِر رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْهسره د مکې او مديني ترمينځه په وادئ کښې سفر کولو، هغه وخت هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْهپه يو خچر سواره وو او زه په يو خر سور ووم- ناڅاپه ما اوليدل چې يو ګَس د غر نه راکوز شو او د هغوئي خوا له راغلے او هغه د هغوئي د خچر څارنه کوله او يو ليوه خپل لاسونه د خچر د زِين مخې ته کيښوده او تر ډير وخته پورې ئې د امام باقر رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْهسره خبرې کولې- بيا هغوئي هغه ليوه ته اوفرمائيل: "اوس ته واپس لاړ شه، ته چې څه غواړې ما هغه شان اوکړه-" ليوه چې دا واوريدل نو واپس لاړو- بيا هغوئي خپل ملګري ته اوفرمائيل: آيا تاته پته ده چې دې ليوه ماته څه اووئيل-  هغه عرض اوکړو: الله پاک، د هغه رسول او د هغوئي ځوئ (يعني تاسو) ښه پوهيږي- هغوئي اوفرمائيل: ليوه فرياد کولو: زما بچے پيدا کيدونکے دے دې باره کښې دعا اوکړئ او د الله پاک په دربار کښې عرض اوکړئ چې هغه زما د نسل نه څوک هم ستاسو سره په محبت کوونکي مسلط نه کړي- هغوئي د هغه خواست د الله پاک په دربار کښې وړاندې

کړو- (شواهد النبوة، ص 239)

صحابہ کا گدا ہوں اور اہلِ بیت کا خادِم یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یارسول اللہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رزق سوال

يو ځل امام باقر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهد مرغو چغار واوريدو نو خوا كښې ناست يو كَس ته ئې اوفرمائيل: تاته پته ده چې دا څه وائي-؟ هغه عرض اوكړو: نه- اوئې فرمائيل: ”دوئې زما د رَبّ پاكې بيانوي او د نني رِزق سوال كوي-“ (حلية الاولياء، 219/3، حديث: 3766)

## د اِمامِ باقِر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره د اِمامِ اَعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ملاقات

د فقهٔ حنفي ډير لوئې عالِمِ دين، حضرت امامِ ابو يوسف رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهبيانوي چې ما خپل استاذ د حنفيانو امام، امامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهته عرض اوكړو: آيا ستاسو د امامِ باقِر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهسره ملاقات شوے دے؟ نو هغوئې اوفرمائيل: آؤ! ما د هغوئې سره ملاقات كړے دے او ما د هغوئې نه يوه مسئله معلومه كړه نو هغوئې ډير ښكلے جواب اوفرمائيلو كوم چې ما د دې نه مخكښې د چا نه هم نه وو اوريدلے.

(تاريخ مشائخ قادريه رضويه بركاتيه، ص 81)

## د شهزادهٔ عالي وقار د ګستاخۍ انجام

يو ځلې بادشاه حضرت امامِ باقِر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهمعاذ الله د شهيد كولو په اراده د ځان خوا له

راوبللو- څنګه چې هغوئي د بادشاه خوا له تشريف راوړو نو بادشاه معافي اوغوښتله او څه ډالئ ئې وړاندې کړې او ډير په ادب او احترام ئې رخصت کړو- د هغوئي د تشريف وړلو نه پس خلقو بادشاه ته اووئيل تا هغوئي د شهيد کولو په اراده نه وو رابللي؟ بادشاه اووئيل: امامِ باقِر رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہچې کله زما خوا له تشريف راوړلو نو ما دوه غضبناکه ازمري اوليدل کوم چې د هغوئي ښي او ګس اړخ ته ولاړ وو او ماته ئې وئيل چې که چرې تا لږه هم ګستاخي اوکړه نو تا به مات کړو. (تاریخ مشائخ قادریه رضویه برکاتیه، ص83)

## د امامِ باقِر رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ فرامين

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت! د اوليائے کرامو رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہِمۡارشادات زمونږ د پاره مشعلِ راه يعني د ژوند تيرولو بهترينې نُسخې وي په هغې د عمل کولو سره مونږ خپله دنيا او آخرت غوره کولے شو د دوئي په لنډو فرامينو کښې د علم او حکمت انموله خزانې وي- د امامِ باقر رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہځينې فرامين اوګورئ:

۞ د بدو خلقو سلام بدې خبرې وي- (يعني بد خلق خپلې خبرې د بدو خبرو نه شروع کوي-) (صفة الصفوه، 77/2)

۞ د هر څيز د پاره څه نا څه آفت وي او د علم آفت هيرول دي- (البدایه والنهایه، 456/6)

۞ هغه عالِم د چا د عِلم نه چې فائده واخستے شي د زرګونو عابدانو نه افضل دے-

(حلية الاولیاء، 214/3، رقم: 3740)

❁ په الله پاک مې دې قسم وي! د يو عالِمِ دين مرګ د شيطان لعين د 70 عابدانو (يعني عبادت کوونکو) د مرګ نه زيات خوښ دے-" (صفة الصفوه، 77/2)

❁ "درې عملونه د ټولو نه زيات ګران دي: ﴿1﴾ په هر حالت کښې د الله پاک ذِکر کول ﴿2﴾ د خپل ځان سره انصاف کول او ﴿3﴾ د ضرورت مند مسلمان ورور سره مالي مرسته کول-" (تفسير در منثور، پ9، الانفال، تحت الآية: 45، 75/4)

❁ د جنګ جګړو نه ځان ساتئ ځکه چې دا زړونه خرابوي او نفاق (يعني نفرت) پيدا کوي- (حلية الاولياء، 215/3، رقم: 3749)

❁ "د الله پاک په آيتونو کښې هيڅ بې هيځه بحث کوونکي خلق جګړ مار دي-" (حلية الاولياء، 216/3، رقم: 3750)

❁ حضرت ثابِت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہبيانوي چې حضرت محمد بن علي باقِر رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہبه د الله پاک د دې فرمان:

| | |
|---|---|
| أُولَٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ ٱلْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا۟ (پ19، الفرقان: 75) | ترجمۂ کنزُ الايمان: دوئي ته به د جنّت د ټولو نه لويه بالاخانه انعام ميلاويږي بدله د دوئي د صبر کولو- |

په تفسير کولو کښې فرمائيل: (دا انعام به دوئي ته) په دنيا کښې په غريبۍ او لوږه د صبر کولو په وجه ميلاويږي- (تفسير در منثور، پ19، الفرقان، تحت الآية: 75، 285/6)

۞ ”زما يو ورور دے څوک چې زما په نزد ډير عزت او عظمت لري او زما په نزد د هغوئي د عظمت (لوړ والي) وجه د هغه په نظر کښې دنيا حقيره (يعني کمه ګڼړل ده۔“ (صفة الصفوه،78/2)

۞ ”چاته چې حُسنِ خُلق (يعني ښه اخلاق) او نرمي عطا کړے شوه هغه ته ټول خير او راحت ورکړے شو او په دنيا او آخرت کښې به د هغه حال بهتره وي او څوک چې د حُسنِ خُلق (يعني ښه اخلاقو نه) او خير نه محرومه شو نو دا د هرې بدئ او مصيبت لاره ده خو هغه څوک چې الله پاک ئې د دې نه بچ کړي۔“ (حلية الاولياء،218/3،رقم:3762)

۞ د عبيد الله بن وليد بيان دے چې حضرت محمد بن علي باقِر رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ مونږ ته اوفرمائيل: ”چې آيا په تاسو کښې څوک د خپل ورور په جيب کښې د لاس دننه کولو سره په خپله خوښه څه راخستے شي؟“ مونږ عرض اوکړو: نه۔ اوئې فرمائيل: ” بيا ستاسو په مينځ کښې هغه ورور ولي نشته د کومې چې تاسو ګمان کوئ۔“ (حلية الاولياء،218/3،رقم:3763)

۞ ”ستاسو د ورور په زړه کښې ستاسو څومره محبت دے د دې خبرې اندازه تاسو د دې خبرې نه اولګوئ چې ستاسو په زړه کښې د هغه سره څومره محبت دے۔“ (صفة الصفوه،79/2)

۞ جابر جُعفي ته ئې اوفرمائيل: ”اے جابره! دنيا د هغه ځائے پشان ګڼړه چرته چې ته د لږ ساعت د پاره حسار شوې بيا ترې لاړې يا د هغه مال پشان اوګڼړه کوم چې تا په

خوب کښې بیاموندو خو چې کله دې سترګې پرانستې نو ستا په لاس کښې هیڅ نه وو- دنیا د عقل مندو او د الله پاک معرفَت لرونکو د پاره د سوري پشان ده- بس ته د الله پاک نه د خپل دین او عقل د حفاظت سوال کوه-" (حلیةالاولیاء،218/3،رقم:3765)

۞ حضرت عمرو بن دینار رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بیانوي چې حضرت محمد بن علي باقِر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: "د خپلې خوښې څیزونو کښې مونږ د الله پاک عبادت کوو که چرې یو څیز زمونږ د خوښې خلاف وي نو د الله پاک د خوښې څیزونو کښې مونږ د هغه نافرماني نه کوو-" (شعب الایمان،244/7،حدیث:10171)

۞ "د الله پاک د ټولو نه زیات خوښ د هغه نه سوال کول او غوښتل دي او قضا (یعني مرګ) په دعا سره وروستو کیدے شي- د ټولو نه زیات زر د ثواب حاصلولو د وجې والا عمل صله رحمي ده او د ټولو نه زیاته زر د سزا وجه جوړیدونکے عمل بغاوت او سرکشي ده- د انسان د عیب داره کیدو د پاره دا کافي ده چې هغه په خلقو کښې هغه عیب ویني کوم چې په ځان کښې نه ویني او خلقو ته د هغه څه حُکم کوي کوم چې د ځان نه لرې کولے نه شي او خپل ټولګي والو ته بې وجې تکلیف ورکوي-" (البدایه والنهایه،457/6)

## وفات شریف

حضرت امامِ باقِر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په 7 ذوالحجۃالحرام 114 یا 117 هجرئ وفات شو. (شرح شجرہ قادریه رضویه عطاریه،ص54نه56) د دنیا د ټولو نه غوره ادیره جنتُ البقیع کښې د حضرت عباس

رَضِیَ اللہُ عَنْهُ د مزار شريف په خوا کښې خاورو ته اوسپارلے شو- (جامع کرامات الاولیا، 164/1) د هغوئي د وصيت مطابق هغوئي ته د خپلو لمونځ د جامو کفن واغوستے شو-

الله پاک! دې مونږ د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو ريښتوني غلامان جوړ کړي او د هغوئي په غلامئ کښې دې زمونږ ژوند او مرګ نصيب کړي.

اٰمين بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړیدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کيدونکي د دعوتِ إسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيَت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په ړکم تاريخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ






فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com